مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۵/۱۳

# د نغمو ښکلا

زه له رنګونو نه دنیا جوړوم
ښکلي وږمه، خوږه شړنګا جوړوم
د خاموشیو زولني ماتوم
زه له نغمو ښکلي لیلا جوړوم

د احساساتو سرې لمبې ویښوم
د تودو شونډو ولولې ویښوم
دې سوو ځړیکو ته دوا جوړوم
زه له نغمو ښکلي لیلا جوړوم

د ژوند سینګار به په خوارۍ کومه
د زړه تسل په شاعرۍ کومه
حسرت راواخلم محبوبا جوړوم
زه له نغمو ښکلي لیلا جوړوم

بیا به شعرونه په شراب لیکمه
نوی کیفیت د نوي باب لیکمه
زه له سازونو نه ښکلا جوړوم
زه له نغمو ښکلي لیلا جوړوم

مصطفی پسرلی
13/05/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ